ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه
د اقتصـــــادي او ټـولنيـــزو مسايلـــو
په بـــرخـــه کــــې د رياست الوزراء
اقتصـــادي معاونيــــت خـــبري اوونيزه
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست
ګڼه 5
نېټه: شنبه، د ذوالقعدې 28مه، 1444 هـ. ق کال






د معلوماتي ټکنالوژۍ پــه تېره بيا مخابراتي سکټور له پرمختګ سره نړۍ د کلي حيثيت خپل کړی دی او د هېوادونو د ټولنيزو اړيکو پر پراختيا، سياسي بدلونونو او اقتصادي ودې يې ژوره اغېزه کړې ده. هر هېواد هڅه کوي چې خپل مخابراتي ســکټور غښــتلی او په پښو ودروي، تر څو يادو موخو ته ورسېږي. اسلامي امارت هم د نړۍ د نورو حکومتونو په څېر دې برخې ته پاملرنه کړې ده او غواړي دغه سکټور ته پراختيا ورکړي. په همدې موخه د رياست الـــوزراء اقتصـــادي مرســـتيال محـــترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالـــوژۍ وزارت او د خصوصي مخابـــراتي شرکتونو ترمنـــځ د ۳٦٥ مېليونو افغانيو په ارزښـــت په لړې پرتو ســـيمو کې د مخابراتي خدمتونو رســـولو تړونونه لاسليک شـــول. محترم ملا صاحب د يـــادو تړونونو د لاسليک پر مهال وويل، اسلامي امارت د ملت خدمت د ځان مسؤليت ګڼي او په ټول توان هڅه کوي چې هېوادوالو ته د ژوند د نورو برخو ترڅنګ په ښــه او لـــوړ کيفيــت مخابراتي خدمتونه هم وړانـــدې کړي. د دغو تړونونو له مخې به مخابراتي شرکتونه د کابل په ګډون په کندهار، نورستان، بدخشـــان، ارزګان، زابل، کونړ او ننګرهار ولايتونو کې د ۳۳ ســـايټونو د جوړېدو له لارې په هغو لرې پرتو ســـيمو کې چې خلک مخابراتي خدمتونو ته لاسرسی نه لري؛ مخابراتي خدمتونه وړاندې کړي.

افغانستان يو له هغو هېوادونو څخه دی چې د مخابراتي خدمتونـــو اوږده مخينه لري، خو د پرمختللو مخابراتي وسايلو څخه لکه ګرځنده ټلېفون او انټرنېټ څخه يې بيا په دې وروستيو شلو کالو کې اســـتفاده کړې ده. دا مهال په افغانســـتان کې مېليونونه خلک له ګرځنده ټلېفون او انټرنېټ څخه د خپلو ورځنيو چارو له پاره ګټه پورته کـــوي. خو لا هم په هېواد کې ځينې ســـيمې شـــته چې خلک مخابراتي خدمتونو ته لاسرسی نه لري، اسلامي امارت غواړي افغانســـتان د معلوماتي ټکنالوژۍ په تېره بيا مخابراتي ســـکټور پر مټ له نړۍ سره ونښلوي، ددې سکټور پرمختګ ته يې ټينګ عزم کړی دی. ددې عزم او ارادې يوه ښه بېلګه همدا پورته تړونونه دي. په دې تړونونو سره له يوه لوري په مخابراتي سکټور کې د پانګونې له پاره زمينه برابره شـــوې او له بل لوري به هغو وګړو ته چـــې لا هم مخابـــراتي خدمتونو ته لاسرسی نه لري، دغه خدمات ورسېږي. کله چې د افغانســـتان ټـــول وګـــړي مخابراتي خدمتونو ته لاسرسی پيدا کړي، بيا به د نړۍ د نورو ملتونو په څېر لـــه دې لارې له يوې خوا خپلمنځي اړيکې ټينګې شي او له بل لوري به خپلې سوداګريزې او اقتصادي چارې سمبال کړي. له دې سره به بيا اقتصادي خوځښـــت رامنځته، د هېـــواد اقتصاد به پيـــاوړی او د هېوادوالو له پاره به د کار زمينه برابره شي.

# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء پنج پروژه بزرگ را در شهر کابل افتتاح نمود



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء پنج پروژه بزرگ را در شهر کابل افتتاح نمود. در این مراسم که مولوی عبدالرشید شاروال کابل نیز حضور داشت، محترم ملا صاحب گفت؛ برای پیشرفت یک کشـــور امنیت از همه مهمتر است، که اکنون الحمدلله در سراسر افغانستان وضعیت نسبت به گذشـــته بسیار عادی گردیده است. شاروالی کابل به برکت امنیت به وجود آمده جهت زیبایی و منظم شـــدن شهر کابل بسیار سعی و تلاش می کند، که به مقایسه گذشته، نمای شهر منظم گردیده و ما از تمامی تلاش های شـــان تحسین و از آن حمایت مـــی کنیم. معاون اقتصادی ریاســـت الـــوزراء حین سخنان خود گفت، که با تکمیل این پروژه ها برای شهروندان کابل تسهیلات زیادی مساعد و ازدحام کاهش خواهد یافت. از جملـــۀ این پنج پروژه کار عملی سرک ارتباطی شـــمال- غرب کابل آغاز گردیده است، که در ظرف یک و نیم سال تکمیل و به بهره برداری ســـپرده می شود. سرک وصل کنندۀ شمال- غرب کابـــل ۷,۵ کیلومتر طول و ۳۰ متر عـــرض دارد که به مصرف ۵۳۰ میلیـــون افغانی احـــداث و مصـــارف آن از طریق عواید داخلی شاروالی کابل پرداخت می گردد. قابل یاد آوریست که با اعمار این سرک ولایت های شمال کشور مستقیماً با شاهراه بزرگ ترانزیتی کابل- هرات وصل می شود.

ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونیزه

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو
په برخه کې د رياست الوزراء
اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

# په هېواد کې د سوالګرو راټولولو پروسه دوام لري

د سوالګرو راټولولو کمېټې پر کابل ښار سربېره د هېواد په لویو ولایتونو لکه کندهار، بلخ، هرات، نورستان، پکتیا او لوګر کې هم د سوالګرو راټولولو لړۍ پیل کړې، چې تر دې دمه یې سلګونه سوالګر راټول کړي دي. دا پروسه چې لومړی له کابل ښار څخه پیل شوې وه د روان لمریز کال د جوزا میاشتې تر ۲۳مې نېټې د یاد ښار له بېلابېلو سیمو ۳۵۳۴۱ سوالګر راټول شوي دي. د راټولو شوو سوالګرو له جملې ۱۳۲۸۱ ښځینه، ۵٦۹۷ نارینه او پاتې ۱٦۳٦۳ ماشومان دي چې د ماشومانو په ډله کې بیا ۷۱ بې سرپرسته ماشومان پېژندل شوي. بې سرپرسته سوالګر ماشومان له بایومېټریک وروسته د کار او ټولنیزو چارو وزارت له لوري روزنتون ته داخلېږي او هلته ورته پر اعاشې سربېره د زده کړو او تعلیم زمینه هم برابرېږي. د یادونې وړ ده چې پر کابل سربېره د هېواد په لویو ښارونو کې هم پر مستحقو سوالګرو په میاشتنۍ ډول د نغدي او خوراکي توکو د مرستو وېش لړۍ پیل شوې، چې دا پروسه به په راتلونکي کې هم دوام ولري.



# اسلامي امارت د نورو سکتورونو ترڅنګ د کرنې سکتور هم په خپلو لومړیتوبونو کې نیولی

کرنه د افغانستان د جغرافیایي جوړښت له امله ځانګړی اقتصادي ارزښت لري، چې د اسلامي امارت په واکمنېدو سره د نورو اقتصادي برخو ترڅنګ دغه سکتور ته هم پوره پاملرنه شوې ده. کرنه د اقتصادي ودې یو مهم محرک ګڼل کېږي او د هېواد په ملي اقتصاد کې ستر رول لوبوي. د ۱۴۰۱ لمریز کال پر مهال کرنې د هېواد د کورني ناخالص تولید ټولیز ارزښت ۳۳,۴۸ سلنه جوړوله چې دا یو ستر پرمختګ دی. افغانستان د کرنې له پاره پراخې ځمکې او مناسب اقلیم لري او تر نیمایي زیات خلک یې په کرنه او مالدارۍ بوخت دي. د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي خودکفایۍ ته د رسېدو په هدف د نورو سکتورونو ترڅنګ د کرنې سکتور او په ځانګړي ډول د غنمو کښت ته جدي پاملرنه کړې او د تېرو کلونو په پرتله یې سږ کال په حاصلاتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د معلوماتو له مخې په ۱۴۰۲ لمریز کال کې پر ۱,۹۱ میلیون هکتاره ځمکه غنم کرل شوي، چې دا رقم د تېرو کلونو په پرتله څو سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.



# د ۱.۱.۱ د نورو سکتورونو ترڅنګ د مخابراتو په سکتور کې هم د پانګونې لپاره زمینه برابره کړې

د افغانستان هر اقتصادي سکتور د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې لپاره ښه او مؤثر فرصتونه له ځان سره لري، چې له هغې جملې یو هم د مخابراتو سکتور دی. په دې سکتور کې د تېرو څلورو لسیزو راهیسې د اشغال، جګړو، ویجاړیو، سیاسي بې ثباتۍ او نورو ګڼو ستونزو له امله د پام وړ پرمختګ نه دی رامنځته شوی. دا چې اوس افغانستان د واحد مرکزي نظام څښتن دی، اسلامي امارت د اقتصاد محوره سیاست په غوره کولو سره د هېواد د اقتصادي ثبات د رامنځته کېدو په پار چټک ګامونه پورته کړي دي. د افغانستان اسلامي امارت په مختلفو سکتورونو کې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې لپاره زمینه برابره کړې او د سوداګریزو چارو لپاره یې مصؤن چاپېریال رامنځته کړی دی. د مخابراتو په سکتور کې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې جلب، جذب څخونه او د هغو ملاتړ د هېواد په اقتصادي تګ لاره کې د یو مهم عنصر په توګه رول لوبوي چې د کاري فرصتونو رامنځته کول، د ټکنالوژۍ کارېدنې ته زمینه برابربدل، په حکومتي ادارو کې د پروسو اسانه کېدل او په ټوله کې د هېواد په اقتصادي ودې او ثبات کې رغنده رول درلودلای شي. د افغانستان د معلوماتي ټکنالوژۍ سکتور د دې ظرفیت لري چې په لوړه کچه د هېواد اقتصادي ودې لپاره په یوه ثابته او دوامداره عایداتي سرچینه بدل شي. د افغانستان اسلامي امارت د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د ۱۴۰۲ لمریز کال پر مهال د هېواد په لرې پرتو سیمو کې د غوره مخابراتي خدمتونو وړاندې کولو



په موخه پر ۴۵۰ نویو سایټونو جوړولو سربېره د نوري فایبر شبکې پراختیا، د ګرځنده موبایلونو د خاص کوډ ثبت پروسه، سیمه‌ییز اتصال او د RTDMS له لارې د عوایدو راټولول یې له کاري لومړیتوبونو څخه دي.

# د قوش تېپې کانال د لومړي فاز چارې ۸۰ سلنه بشپړې شوې

د ملي پراختیايي شرکت د مسوولینو په وینا، د قوش تېپې ستر او ملي کانال چې له آمو سیند څخه اوبه اخلي، د لومړي فاز چارې یې ۸۰ سلنه بشپړې شوې دي. په لومړي فاز کې چې دا مهال زرګونه ماشینري او کارګر په کار بوخت دي، ۱۱۰ میلیونه متر مکعبه کیندنه ترسره شوې ده. دوی زیاتوي، د قوش تېپې کانال چې ۲۸۵ کیلومتره اوږدوالی لري د بلخ ولایت له کلدارې ولسوالۍ څخه پیل د حیرتانو له دښتو او د دولت آباد له ولسوالۍ په تېرېدو سره د جوزجان ولایت آقچې ولسوالۍ څخه د فاریاب اندخوی ولسوالۍ کې پای ته رسېږي. دغه ستر کانال په درېیو فازونو ویشل شوی دی. لومړی فاز یې له آمو سیند څخه پیل او د بلخ په دولت آباد ولسوالۍ کې پای ته رسېږي، ۱۰۸ کیلومتره اوږدوالی لري، دوهم فاز یې د بلخ له دولت آباد ولسوالۍ څخه پیل او د جوزجان ولایت آقچې ولسوالۍ څخه په تېرېدو د فاریاب ولایت اندخوی ولسوالۍ ته رسېږي، چې اوږدوالی یې ۱۷۷ کیلومتره او درېیم فاز د فرعي کانالونو د وېش لپاره ځانګړی شوی دی. دغه مسوولین وایي، د دې کانال پورتنۍ برخه ۱۵۲ متره پلنوالی، ښکتنۍ برخه یې ۸۵ متره پلنوالی، ژوروالی یې ۸,۵ متره، د اوبو لوړوالی ۶,۵ متره دی او په یوه ثانیه کې د ۶۶۸,٤ متره مکعب اوبو د لېږد وړتیا لري. د مسوولینو په خبره، د اوبو د دې لوی کانال د جوړولو موخه د هغو ۵۸۰ زره هکتاره ځمکو او دښتو خړوبول دي چې له کلونو راهیسې شاړې پرتې وې. د یادونې وړ ده، چې د کانال د کیندنې تر څنګ په سربند او د مزار شریف – حیرتان سړک پر سر پله او د مزار شریف حیرتانو ترمنځ د ریل پټلۍ پر پله هم کار روان دی.





# تورم
## و عوامل ثأثیر گذار بر آن

نویسنده: هدایت الله واحدی

### مقدمه

انفلاسیون (تورم) عبارت از افزایش مقدار پول زیادتر از نیاز آن در اقتصاد و یا به عباره دیگر افزایش متداوم قیمت ها و کاهش دوامدار ارزش پول است، که یکی از مباحث مهم در اقتصاد می باشد، ولی متاسفانه در درازنای چهاردهه جنگ و نابسامانی و عدم توجه دولت مردان و رژیم های دست نشانده و نبود توجه آن ها در راستای امور ایجاد و بازسازی اساسی زیربناهای اقتصادی کشور همیشه مردم و کشور ما دستخوش مشکل تورم و سایر چالش‌ها در اقتصاد کشور خود بوده اند. خوشبختانه با رویکار آمدن امارت اسلامی با وجود مشکلات عدیده که از جوانب مختلف اعم از میراث ماندن اقتصاد ضعیف و ورشکسته از گذشته، و محدودیت ها تحمیل شده از جانب جامعه جهانی، منجمد نمودن سرمایه مردم افغانستان توسط امریکا، عدم به رسمیت شناختن حکومت بدون کدام دلیل منطقی، نبود کمک های جامعه جهانی که یک امر مروج و معمول در حصه کشور های در حال توسعه و گذار از جنگ است. توانسته با تلاش پیگیرانه این مشکل را تا اندازه زیادی مرفوع سازد. در این نوشته سعی شده تا در مورد مفهوم انفلاسیون، نقاط مثبت و منفی و عوامل تورم به گونه‌ای اجمالی نکاتی به رشته تحریر در آوریم.

### تورم و تأثیرات آن در اقتصاد

انفلاسیون از جمله مشکلات عمده اقتصاد می باشد، یعنی کاهش قدرت خرید یک ارز در گذر زمان یا در یک مقطع زمانی مشخص، برآورد کمیتی نرخ این کاهش، قدرت خرید در حد متوسط افزایش قیمت یک محصول و خدمات مشاهده می‌شود. این افزایش کلی قیمت‌ها که معمولاً به صورت فیصدی نمایش داده می‌شود، در واقع به این معناست که در مقایسه با گذشته، با یک واحد از اسعار، خرید کمتری می توان انجام داد. به هر حال با کاهش ارزش یک ارز، قیمت‌ها افزایش می‌یابند و با هر واحد از آن ارز، اجناس و خدمات کمتری می‌توان خریداری کرد. این کاهش قدرت خرید، روی مصارف کلی زندگی مردم عادی تاثیر می‌گذارد و در نهایت به کاهش رشد اقتصادی منجر خواهد شد. در میان اقتصاد دانان این نظر کلی وجود دارد که وقتی نرخ عرضه پول یک کشور از نرخ رشد اقتصاد آن بیشتر باشد، تورم رخ خواهد داد.



### چه چیزی باعث ایجاد تورم میشود؟

سه علت اصلی ایجاد تورم عبارتند از: تورم ناشی از فشار تقاضا، تورم ناشی از فشار مصرف و تورم ساختاری. در تورم ناشی از فشار تقاضا (Demand-Pull inflation) با افزایش عرضه پول بوجود می‌آید و به عنوان یک محرک برای افزایش تقاضای محصول و خدمات در اقتصاد عمل می‌کند. در این حالت، سرعت افزایش تقاضا برای محصولات و خدمات بیشتر از میزان ظرفیت تولیدی اقتصاد است. بنابر این، ازدیاد تقاضا موجب افزایش سطح قیمت‌ها و تورم می شود. در این زمان چون پول بیشتری در دسترس افراد است، آن‌ها بیشتر خرج می‌کنند و فاصله بین تقاضا و عرضه ایجاد می‌شود که پیامد آن تقاضای بیشتر و عرضه کمتر می باشد. تورم ساختاری (که به عنوان ماریپچ قیمت – دستمزد هم شناخته می‌شود) زمانی اتفاق می‌افتدکه نیروی کار تقاضای دستمزد بیشتری می‌کند تا

از عهــده مصرف در حال افزایش زنده گی برآید. این موضوع باعث می‌شــود تولید کننده‌گان هم قیمت محصولات شان را افزایش دهند تا افزایش حقــوق کارکنــان آن‌ها جبران شــود. بنابر این دســتمزد و قیمت‌ها پی‌در پی افزایش پیدا می کنند. تورم ناشی از فشار مصرف زمانی که سطح کلی قیمت‌ها به علت افزایش مصارف دستمزد و مواد اولیه افزایش یابد، "تورم ناشــی از فشــار مــصرف "رخ می‌دهد. مصرف بــالای تولید می تواند منجر به کاهــش عرضه عمومی در اقتصاد شــود. از آن‌جاییکه، تغییــری در تقاضا بوجود نیامده اســت، افزایش قیمــت در محصولات به مصرف‌کننده گان منتقل می‌شود و تورم ناشی از فشار مصرف بوجود می‌آید.

## نقاط مثبت و منفی تورم چیست؟

تورم نتایج منفی زیادی در اقتصاد دارد. زمانی که دستمزد نیروی کار با نرخ تورم قیمت‌های فروش اجناس و مواد اولیه همخوانی نداشــته باشــد، قدرت خرید دستمزدها و قدرت خرید نیروی‌کار، کاهش پیدا می‌کند. این چالشی قابل توجه برای خانواده‌هایی با عواید پایین به شــمار می‌رود زیرا برای آن‌ها هر افزایــش در نرخ اجناس می‌تواند، عواقب دشــواری به همراه داشته باشد، بر علاوه در ادامه افزایش قیمت محصولات تقاضای نیروی کار بــرای افزایش دســتمزد، منجر بــه افزایش مصرف نیروی‌کار می‌شــود که بــه کاهش یافتن مفــاد بدســت آمده توســط واحــد هــای اقتصادی(نهاد های تجارتی، تولیدی و خدماتی) به کسب وکار می‌انجامد. تمام این اثرات ناشی از تورم می‌تواننــد نا اطمینانــی در اقتصاد بوجود بیاورد که منجر بــه کاهش سرمایه‌گذاری سرمایه گذاران می‌شــود. با این‌حال، تورم همیشــه هم نامطلوب به شــمار نمــی‌رود. در واقــع، در یک اقتصاد تقریباً ســالم، به درجه ثابتی از تورم نیاز است. با اینکه اقتصاددانان باور دارند که تورم بالا یک خطر غیر قابل چشم‌پوشی است، تورم پایین نیز می‌تواند مضر باشد. همان‌طور که تورم بالا می تواند منجر به بالا رفــتن دائمی نرخ بهره برداری شــود. این نرخ بهره‌ها می‌تواننــد توانایی بانک مرکــزی را در افزایش قدرت اقتصــاد در دوران ســخت محدود کنند و این منجر بــه رکودهای طولانی و عمیق می‌شود. به هر حال خوشبختانه که امارت اســلامی افغانســتان با وجود تحمیل محدودیت ها در سیستم بانکداری، منجمد شدن سرمایه مردم افغانســتان توســط امریــکا، به جا ماندن اقتصاد ورشکســته و ضعیف از گذشــته، مســئله به رسمیت شناختن و ســایر تحریمات با معنویات بلند توانســته اســت، میزان کاهش و افزایش (انفلاسیون و دیفلاســیون ) را ثابت نگه دارد. امارت اســلامی توانسته اســت در چنین اوضــاع و احوال که در بالا ذکر شــد با امکانات موجوده با درایه کامل، هوشمندانه از بابت عواید داخلی، صــادرات، تجارت، اســتخراج معادن و مساعد ساختن زمینه کار برای مردم در بازسازی پروژه هــای زیربنایی، خدماتی و عــام المنفعه، فراهم نمــودن جلــب و جذب سرمایــه گذاری خارجی ... را فراهم نماید که در اثر آن بیلانس یا توازن انفلاســیون را حفــظ و از حالت نامتعادل اقتصادی مردم و کشــور خویشرا تا اندازهٔ برهاند، که کاهش قیمت های مواد خوراکی، ســوختی، عوایــد داخلی، ثبات پول افغانی در برابر اســعار خارجی، پرداخت به موقع معاش کارمندان دولتی ثبوتی آشــکاری برای این ادعای ماست، چنانچه در گــزارش اخیر بانک جهانی نیــز بازتاب یافته اســت. بانک جهانی در گزارش اخیر خود اظهار داشــته که قیمت مواد خوراکــی و نفتی کاهش یافته، ارزش افغانی در برابر اســعار خارجی ثابت باقی مانده است، در کنار صادرات سطح واردات و عوایــد ملی افزایــش یافته، معــاش کارمندان دولتی به وقــت معینه پرداخت گردیده، در داخل کشور تولید مواد خوراکی افزایش یافته و در حصهٔ برداشت پول از بانک ها تسهیلات فراهم گردیده است. اظهارات مذکور پیرامون واقعیت های عینی وضعیت اقتصادی افغانستان مبین تلاش های پی گیرانه و خستگی ناپذیر امارت اسلامی در فضای که هیچ امیدی برای کنترول انفلاسیون در کشور وجود ندارد، دال بر داشتن تفکر رشد اقتصادی، تعهد، صداقت و حس ملت پروری و آبادانی است. زیرا در شرایطی که محدودیت ها از جانب جامعه جهانی و مشــکلات از قبل به جا مانده بیداد می کند، این امور انجام شده توسط حکومت شاهکار تلقی می گردد. امارت اسلامی افغانستان به این باور اســت که اگر جامعه جهانی به جای تحمیل محدودیــت ها بر تعامل مثبــت توجه نماید، بی تردید که افغانستان در عرصه اقتصادی بیشتر از این پیشرفت خواهد کرد .



## چگونگی کنترول تورم

به کارگیری ابزار های متعارف سیاست پولی، کنترول حسابات بانکی، کاهش کسر بودجه و در نهایت اجتناب از تکرار اشتباهات گذشته در پرداخت اسعار مواردی اند که برای کنترول تورم باید به آن ها توجه شود.

## نتیجه‌گیری

از مفاهیم که در بالا به گونه اجمالی به آن پرداخته شد، چنین نتیجه گیری می شود که تورم یا Inflation از نظر علم اقتصاد اشاره به افزایش سطح عمومی تولید پول، عاید پولی و یا قیمت است. تورم عموماً به معنی افزایش غیر متناسب سطح عمومی قیمت در نظر گرفته می‌شود. تورم، روند سریع و نامنظم افزایش قیمت‌ها در اقتصاد است، که در اثر آن در حالت انفلاسیونی زمانی که پول ملی یک کشور دچار کاهش ارزش می‌شود، افراد آن جامعه کوشش می‌نمایند تا پول دست داشته خویش را بر اجناس با ارزش‌تر و یا اسعار مبادله نمایند، با تصور این که در آینده ارزش پول باز هم تنزیل خواهد یافت. در نتیجه‌ی همین حرکت میزان تقاضای اجناس به شدت افزایش میآبد و طی این عملیه قیمت‌ها سیر صعودی را به خود می‌گیرد. که اثرات نامطلوب اقتصادی را در جامعه به بار می‌آورد و منجر به بی‌ثباتی اقتصادی می‌گردد. در برابر تورم یا انفلاسیون دیفلاسیون قرار دارد. دیفلاسیون عبارت از کاهش قیم داخلی و یا افزایش مقدار تولیدات و خدمات در بازار می‌باشد. در حالت دیفلاسیونی افراد سعی می‌کنند تا پول‌های خویش را پس انداز نموده و از مصرف خودداری نمایند. در نتیجه تقاضای کلی در مارکیت نزول نموده و قیمت‌ها باز هم کاهش میآبد. همراه باکاهش تقاضا، سرمایه گذاران دست به سرمایه‌گذاری نمی‌زنند و حتی ممکن است، بیکاری‌های عظیمی در جامعه رونما گردد. با وجود این، نظر به کاهش قیمت‌ها چنین به نظر می‌رسد که دیفلاسیون نسبت به انفلاسیون حالت مساعد اقتصادی است. اما همان طور که تذکر یافت همیشه انفلاسیون اثرات مخرب نداشته و دیفلاسیون همیشه مفید نیست، بلکه هر دو نظر به حالات اقتصادی متفاوت اثرات گوناگونی را بالای سرمایه‌گذاری ها، شرایط استخدام و مارکیت وارد می کنند. پس در این صورت حالت بیلانس یا توازن پیشنهاد می گردد تا ثبات اقتصادی پا برجا باقی ماند، و روند اقتصادی کشور ها به گونه عادی به سوی ثبات اقتصادی گام بردارد. که خوشبختانه امارت اسلامی در این راستا توانسته است، باوجود مشکلات فعالیت های چشمگیری را انجام دهد.



# Agricultural Products: Their Role and Significance in Boosting Exports

By Amanullah Hanifi





Afghanistan is one of the countries in the world possessing fertile land and a favorable climate for agricultural activities.

Consequently, a significant portion of the population engages in agriculture and livestock to fulfill their essential needs. Agriculture serves as a crucial driver of economic growth in Afghanistan, contributing substantially to the country's annual gross domestic product. Since the re-establishment of the Islamic Emirate, the agricultural sector has witnessed the implementation of various initiatives aimed at mechanizing agriculture, providing essential infrastructure such as cold storage and greenhouses, establishing improved seed centers, implementing advanced irrigation systems, leasing agricultural land to citizens on short and long-term basis, enhancing domestic and international marketing of agricultural products, and facilitating cash lending.

Agriculture holds a pivotal position within the economic sector, and Afghanistan endeavors to adopt modern agricultural practices to enhance productivity and significantly improve product quality. Notable agricultural products of Afghanistan, well-recognized in the region and the world, include pomegranates, apples, pine nuts, grapes, saffron, cotton, olives, grains, and cereals. Currently, Afghanistan exports approximately 110 types of agricultural products to countries such as China, Turkey, Uzbekistan, Turkmenistan, Tajikistan, Kazakhstan, Iran, Pakistan, India, the United Arab Emirates, Saudi Arabia, and numerous others within the region and beyond. Agricultural products constitute a substantial share of Afghanistan's export commodities, with these products accounting for over half of the export value, reaching nearly two billion dollars during the last solar year of 1401. Exporting agricultural products has not only strengthened trade relations between Afghanistan and its partner countries but also facilitated their expansion.

To foster development, a country must focus on increasing domestic

production and promoting international marketing of its products. Fortunately, since the re-establishment of the Islamic Emirate, Afghanistan has embarked on this path. During the solar year 1401, Afghanistan achieved an export level of almost two billion dollars, which represents a twofold increase compared to the previous solar year. Afghan farmers have significantly benefited from exporting agricultural products to regional and international markets. They now deliver their products promptly at favorable prices and receive positive reception abroad. Previously, Afghan farmers lacked the opportunity to present their products in international markets under the name of Afghanistan. Alhamdulillah, with the re-establishment of the Islamic Emirate, Afghan agricultural products are now recognized and appreciated in foreign markets under the banner of Afghanistan. Consequently, income has surged compared to the past.

The increase in exports ensures a balanced trade for a country. Recognizing this significance, every nation endeavors to boost domestic production, secure a place in the international market, and reap substantial profits. The Islamic Emirate has prioritized the importance of exports and swiftly taken steps to significantly elevate the export level compared to previous years. With the re-establishment of the Islamic Emirate in Afghanistan, alongside other vital economic sectors, considerable attention has been given to the growth and modernization of the agricultural sector. Multiple facilities have been established, with a keen focus on augmenting agricultural production, enhancing product quality, and facilitating both domestic and international marketing.



The Islamic Emirate strives for full mechanization of Afghanistan's agriculture, as this approach not only provides facilities for farmers but also stimulates increased production of agricultural products. Given that nearly 70 percent of Afghans reside in rural areas and rely on agriculture and livestock for their livelihoods, prioritizing the agricultural sector is essential for rapid economic growth. By undertaking fundamental initiatives in the agricultural sector, tens of thousands of employment opportunities can be generated annually, while an increase in agricultural products contributes to national income growth. This augmented revenue aids in financing the national budget, initiating infrastructure projects, stimulating economic growth, and alleviating economic challenges.